د اسراء په شپه (يعني هغه شپه چې اسمانونو ته پورته کړی شوم) له ابراهيم عليه السلام سره مخ شوم نو ويې ويل: اې محمده! خپل امت ته دې زما لخوا سلام ووايه او خبر يې کړه چې جنت پاکيزه خاوره او خوږې اوبه لري

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « د اسراء په شپه (يعني هغه شپه چې اسمانونو ته پورته کړی شوم) له ابراهيم عليه السلام سره مخ شوم نو ويې ويل: اې محمده! خپل امت ته دې زما لخوا سلام ووايه او خبر يې کړه چې جنت پاکيزه خاوره او خوږې اوبه لري او ځمکه يې ونې بوټې نه لري، او دا چې کښت يې: سُبْحَانَ الله، الحَمْدُ لِلَّه، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ او اللَّهُ أَكْبَرُ» دي.

[د شواهدو په اعتبار حسن دی] [الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې هغه د اسراء او معراج په شپه له ابراهيم عليه السلام سره مخ شو، نو ورته يې وويل چې اې محمده! زما سلام دې امت ته ورسوه، او پوه يې کړه چې جنت ښايسته خاوره او خوږې اوبه لري چې مالګيني نه دي او دا چې جنت پراخه دی، ځمکه يې اواره ده ونې نه لري، او دا چې کښت يې پاکيزه کلمې دي هغه کلمې باقيات او صالحات دي، يعني پاکيزه کلمې دي چې تر هغه پورې به په جنت کې وي تر څو چې ځمکه او اسمانونه وي او هغه دا دي: سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ، نو هر کله يې چې يو مسلمان ووايي او تکرار يې کړي، په جنت کې ورته يوه (ونه) کرل کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3791

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee